## چاپېریال ساتنه یوه ملي وجیبه ده

لیکوونکی: خوشال درانی

**سریزه**

په ګران افغانستان کې پرلهپسې جګړو د هېواد ټول اړخونه زیانمن کړي دي. له بدمرغه، د جنګ او جګړو له امله ډېرو لویو او کوچنیو ستونزو ته په سمه توګه رسېدګي نه ده شوې، چې د دې ستونزو له ډلې څخه یوه عمده هغه په کې د چاپېریال ککړتیا ده. د پلازمېنې کابل په ګډون د هېواد د ډېرو ولایتونو هوا هر کال مرګوني ککړېږي، چې د دې ککړې هوا له امله ډېرو خلکو ته تنفسي ناروغی پیدا کېږي او د ډېرو خلکو د مړینې سبب ګرځي.

پاک چاپېریال د انسانانو او ژوندیو موجوداتو په ژوند مستقیم مثبت اغېز کوي او نا پاک چاپېریال هم د انسانانو او هم د نورو ژوندیو موجوداتو ژوند په منفي توګه اغېزمنوي. له بدمرغه په هېواد کې د ځلورو لسیزو اوږدو جګړو او د چاپېریال ساتنې په اړه د عامو خلکو د پوهې د نهشتوالي له امله زموږ چاپېریال ډېر زیانمن شوی دی، چې په دې کې اوبه، هوا او خاوره چې د چاپېریال ساتنې مهمې ستنې دي، شاملې دي. د ژمي په موسم کې د ځینو کورنیو له لوري د ځځلو، ډېرو سکرو او د خراب غاز سوځول او په موټرو کې د بېکیفیته تېلو کارول د چاپېریال په ککړوالي کې پوره ونډه لري. د ځځلو، ډېرو سکرو او د ټیټ کیفیت غازو له امله کاربن مونو اکساید، نایټروجن ډایکساید، بینزو پایرین او ډایوکسین پیداکېږي، چې وروسته د ډول ډول تنفسي ناروغیو ترڅنګ د سرطان، زړه، پوستکي او رواني ناروغیو لامل کېږي. په جنګ او جګړو کې کارېدونکي کېمیاوي مواد او بارود هم هغه څه دي، چې چاپېریال ککړوي او د هوا په زهرجنولو کې مرسته کوي.

د چاپېریال ککړتیا او ورته نه پاملرنه د ملاریا او ورته نورو انتاني ناروغیو په خپرېدو کې هم ونډه لري. په غیر معیاري ښاري سیمو کې د ډېرو خلکو مېشتېدل، نامعیاري ځاګاني او په کرنیزو ځمکو کې د کورونو ابادول هم هغه ستونزې دي چې چاپېریال ته لوی ګواښ پېښوي او اوسمهال زموږ هېوادوال ورسره لاس او ګرېوان دي.

**افغانستان او چاپېریالي ستونزې**

په افغانستان کې د چاپېریال ککړوالي عوامل د وګړو ډېرېدل، د نقلیه وسایطو ډېروالی، د معیاري ښارګوټو او ښارونو نشتوالی، د ځنګلونو او ونو بوټو په بې رحمه توګه وهل، غیرمعیاري کرنیز دودونه، د پاک ښاري فرهنګ په اړه کم پوهاوی، د بې کیفیته سون توکو کارول، د خلکو اقتصادي کمزورتیا او داسې نور دي.

د نړۍ د هوا د حالاتو د څېړنې ډلې په ۲۰۱۷ز کال کې یو راپور خپور کړی و، چې په افغانستان کې د هوا ککړتیا له امله د قربانیانو شمېر د جګړې له قربانیانو ډېر دی. په دغه راپور کې ویل شوي وو، په ۲۰۱۷ز کال کې ۲۶زره تنه د هوا د ککړتیا له امله وژل شوي وو، خو د جګړې د قربانیانو شمېر بیا ۳۴۸۳ تنه وو. افغانستان لا هم د نړۍ د هغو هېوادونو په سر کې ځای لري، چې چاپېریال یې هر کال ککړېږي. که څه د ژمي په موسم کې د هېواد په مرکزي، سویل ختیځو، شمال، شمال ختیځو او نورو سیمو ډېرې واورې کېږي او چاپېریال پاکوي؛ خو ورسره د یخنۍ څپه هم راولاړېږي او خلک مجبوره کېږي، چې د ځان تودولو لپاره هر ډول وسیلې وکاروي.

که په هېواد کې د برېښنا ستونزه حل شي او ټولو خلکو ته برېښنا ورسېږي، نو خلک به نه مجبوره کېږي، چې ځنګلونه ووهي، په کورونو کې بېکیفیته توکي وسوځوي او چاپېریال ککړ کړي. د غبرګولي ۱۵مه«د جون ۵مه»د چاپېریال ساتنې نړیواله ورځ ده او په دغه ورځ حکومتونه، چارواکي او نړیوال بنسټونه د چاپېریال د ککړوالي په لاملونو او حللارو خبرې کوي او هغه ښارونه او دولتونه ښیي، چې چاپېریال یې ډېر ککړ وي. دا چې د چاپېریال ساتنې لپاره یو ورځ نړیواله شوې، نو اوسنۍ نړۍ د چاپېریال له ستونزو سره هم لاس او ګرېوان ده. په ټوله کې د نړۍ چاپېریال د هغو هېوادونو له لوري ډېر ککړ شوی، چې اوس په اوسنۍ نړۍ واک چلوي. دغه هېوادونه د نړۍ مهم اقتصادي او پوځي هېوادونه دي او د نړیوالو بنسټونو له لوري د دوی هر ډول سرغړونو ته ډېر پام نه کېږي.

**چاپېریال څنګه پاک ساتلی شو؟**

په دې کې هېڅ شک نشته چې هر څوک په پاک او شین چاپېریال کې اوسېدل غواړي، خو د پاک چاپېریال رامنځ ته کول د خلکو او حکومت ګډې همکارۍ ته اړتیا لري. په پاک چاپېریال ساتلو کې د حکومت سربېره عام خلک هم مجبوره دي، چې خپل چاپېریال ته پوره پام وکړي او د ککړېدو مخنیوی یې وکړي. د چاپېریال پاک ساتلو لپاره باید لاندې کارونه ترسره کړل شي.

۱ـ د ښارونو کثافات او د صنعتي فابریکو ضایعات په یوه ځانګړي ځای کې وسوځول شي. که دغه کار وشي، د ګندونو او خځلو د سوځېدو نه برېښنا هم تولیدېږي، چې زرګونه کورنۍ روښانولی شي.

۲ـ که په لویو او وړو ښارونو کې د کانالازېسیون سیستم جوړ شي او پاکي او ناپاکي اوبه سره جلا شي، دغه چاره هم د چاپېریال په ساتلو کې مهمه ونډه لري.

۳ـ ښارونه، لویې لارې، د سړکونو خواګاني او نور عامه ځایونه باید زرغون شي. که په ښارونو کې زیاتې ونې وکرل او پالل شي دغه چاره هم چاپېریال له ککړېدو ژغوري.

۴ـ د هېواد طبیعي ځنګلونه باید وساتل شي او په دغو ځنګلونو کې د ونو له پرې کېدو څخه جدي ډډه وشي. شنه ځنګلونه هم د چاپېریال په پاک ساتلو کې ډېره ونډه لري.

۵ ـ حکومت باید په ښارونو کې ځینې غونډۍ، لویې او کوچنۍ دښتې او هوارې ځمکې شنې کړي. که په دغو ځایونو کې ونې وکرل شي، د چاپېریال په پاک ساتلو کې پوره برخه اخیستی شي.

۶ـ د پسرلي په موسم کې هر کال د هېواد په ګوټ ګوټ کې مېلیونونه مېوه لرونکي او بې‌مېوې ونې کرل کېږي، خو د ساتلو لپاره یې هېڅ پام نه کېږي. که د ښارونو او ولسوالیو ښاروالۍ د مېلیونونو نیالګیو پر ځای هر کال دومره نیالګي کېنوي، چې ساتنه او پالنه یې کولی شي، دغه چاره هم د پاک چاپېریال ساتلو لپاره ډېره اړینه ده. که هر کال د اړتیا وړ نیالګي وکرل شي او پالل شي، راتلونکو څو کلونو کې ډېرې دښتې زرغونېدای شي.

۷ ـ که څه هم په هېواد کې لویې تولیدي کارخونې نه‌شته، خو ټول صنعتي ښارګوټي د ګڼه ګوڼې په ډکو ځایونو کې جوړ شوي. که صنعتي ښارګوټي د ګڼه ګوڼې له ډکو ځایونو لېرې جوړ شي، شاوخوا سیمې یې شنې شي دغه چاره د چاپېریال لپاره اړینه ده.

۸ ـ د خښتو بټۍ هم هغه څه دي، چې چاپېریال ککړوي او زرګونه خلکو ته د ډول ډول ناروغیو سبب کېږي. د خښتو بټۍ باید په داسې ځایونو کې جوړې شي، چې هلته د خلکو هستوګنه نه وي او هم په دغو بټیو کې د بې‌کیفیته ربړونو او نورو مضرو سون توکو له سوځولو جدي ډډه وشي.

۹ ـ هېواد ته د بې‌کیفیته تېلو، غازو او نورو مضرو توکو واردولو په اړه باید جدي پلټنې وشي او که یې ضرر ثابت وي، نو پر واردولو یې بندیز ولګول شي؛ ځکه دغه توکي خلک کاروي او د خپل ځان تر څنګ زرګونه نور خلک هم اغېزمنوي.

۱۰ـ په هېواد کې لا هم سلګونه وړې او لویې دښتې شته او د زرغونېدو امکانات یې هم شته. که په دغه دښتو کې داسې ونې وکرل شي، چې لږو اوبو ته اړتیا ولري هم د چاپېریال په پاک ساتلو کې اغېزناکه تمامېږي.

۱۱ـ د پاک چاپېریال لپاره پکار ده، چې سړکونه سم جوړ شي او د بې کیفیته نفتي موادو د کارولو، په حمامونو او هوټلونو کې د لرګیو او نورو بې‌کیفیته شیانو سوځولو مخنیوی وشي.

۱۲- د خاورې خونديتوب د چاپېريال ساتنې يوه بله مهمه لاره ده. د دې چارې لپاره بايد د ځمکو ښويېدنو، سېلابونو او د خاورو د پړسوب مخنيوی وشي. پر دې سربېره، بايد د خاورې خوندي ساتلو لپاره نوي ځنګلونه ايجاد کړل شي او په کرنه کې له طبيعي سرو څخه کار واخيستل شي.

**اسلام او چاپېريال**

اسلامي عقايد، دودونه او ارزښتونه د اوسنيو چاپېريالي ننګونو لپاره، چې بشر ورسره لاس او ګرېوان دی، اغېزناکې او هر اړخيزې حللارې لري. اسلام د چاپېريال ساتنې او د طبيعي سرچينو د خونديتوب د ارزښت په ډاګه کولو شتمن او غني دود لري. د اسلامي قوانينو له مخې، د طبيعت اساسي عناصر – ځمکه، اوبه، اور، ځنګلونه او رڼا – په ټولو ژونديو موجوداتو پورې اړه لري، نه يوازې په انسانانو پورې.

اسلام په صريحه توګه د سرچينو له ضايع کولو او اسراف څخه د ډډې کولو حکم کړی دی ځکه چې د چاپېريال د تخريب او له منځه وړلو سبب ګرځي. په قرآنکريم او احاديثو کې د چاپېريال ساتنې اړوند صريح او لازمي حکمونه موجود دي. تر ټولو لومړی اصل چې د چاپېريال د پايښت په اړه د اسلامي لارښوونو بنسټ ګڼل کېږي د خلافت مفهوم دی. خليفه، چې د مسلمانانو مشر وي، بايد ټول اړين تدابير ونيسي او ډاډ ورکړي چې ورکړل شوې شتمني په امانتدارۍ سره له يوه نسل څخه بل ته انتقال کړي. دا د ټولو مسلمانانو وجيبه ده چې له چاپېريال څخه سمه ساتنه کړي او ورته درناوی ولري.

الله ﷻ په سورة الاعراف، ۳۱ آيت کې فرمايي: يَا بَنِي آدَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ وكُلُواْ وَاشْرَبُواْ وَلاَ تُسْرِفُواْ إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ ﴿۳۱﴾

ژباړه: د آدم ځوځاته! چې کله جومات ته ورځئ؛ نو خپله ښکلا له ځانه سره واخلئ او (له الهي نعمتونو) وخورئ او وڅښئ؛خو(بې‌ځايه) لګښت مه کوئ، چې بې‌ځايه لګښتيان د خدای نه خوښېږي. (ژباړه: انديال)

الله ﷻ په قرانکريم کې فرمايي: وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ(البقرة سورت ۲۰۵ ايات شريف)

ژباړه: کله چې بېرته و ګرځي هڅه کوي په ځمکه کې لپاره د دې فساد وکړي هلاکوي کښت او ساه کښونکي. الله تعالی فساد نه خوښوي. يعنې د ځنګلونو، ونو، بوټونو او نور ټولګټو ځايونو له منځه وړل هم د ککړتيا لامل کېږي او الله ﷻ داسې کړنو ته فساد ويلی دی.

رسول الله صل الله عليه وسلم فرمايي: لَا يغْرِس مُسلِم غرْساً، وَلاَ يزْرعُ زرْعاً، فيأْكُل مِنْه إِنْسانٌ وَلا دابَّةٌ وَلاَ شَيْءٌ إلاَّ كَانَتْ لَه صَدَقَةً

ژباړه: که يو مسلمان يوه ونه کېنوي يا يو زړی ښخ کړي، بيا ترې يو انسان، يا حيوان يا بل شی څه وخوري، دا د ده لپاره صدقه ده.

د يو بل حديث شريف چې په مسند کې روايت شوی دی، مفهوم دی چې "هغه څوک چې يوه ونه وکري او پالنه يې وکړي، تر دې پورې چې مېوه ونيسي، نو اجر به ورکړل شي".

رسول الله ﷺيو بل ځای فرمايي: إِذَا مَاتَ الإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاَثَةٍ، إِلاَّ مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ) رواه البخاري في الأدب ومسلم في الصحيح واللفظ له والثلاثة أبو داود، الترمذي، النسائي.

رسول الله ﷺ عليه وسلم فرمايلي: کله چې يو انسان مړ شي، نو ټول عملونه يې قطع«پرې کېږي» بغير له درېيو. جاري صدقه، ګټور علم او صالح اولادونه.

که یو انسان له خپل مرګ مخکې یوه، دوه، درې او ان لسګونه ونې وکري او خلک يې له مېوې، سیوري او لرګیو څخه ګټه اخلي، نو د دغه ونو ثواب دغه کس ته له مرګ وروسته هم رسېږي. یوازې ونې په جاري صدقه کې نه راځي، بلکې څاګانې، د لویو لارو جوړول، ښوونځي، مدرسې، کتابتونونه، روغتونونه او ...

حضرت محمد ﷺ له طبیعي سرچینو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې او له حده زیاتې کارونې څخه منع کړې ده. د ځمکې، ځنګلونو او وحشي ځناورو د خوندیتوب لپاره يې د حرم او حمی په نوم سیمې ایجاد کړې چې هر ډول ښکار په کې منع و او سرچینې په کې خوندي وې. د حرم سیمې د څاګانو او د اوبو د سرچینو په شاوخوا کې وې چې د ځمکې اوبه خوندي وساتي. حمی وحشي ژویو او ځنګلونو او هغو ځمکو باندې تطبیق کېده چې څاروي څرول یا د لرګیو او ونو غوڅول په کې منع و، یا هغه ځای چې ځانګړي څاروي (اوښان) به په کې ساتل کېدل. حضرت محمد صل الله علیه وسلم یوه حمی د مدینې منورې په سویلي برخه کې تاسیس کړې وه چې د څلورو میلو په شاوخوا کې يې ښکار او د دولسو میلو په شااواخوا کې يې د ونو او بوټو غوڅول منع و. د مصؤنو ځمکو یا حرمونو ایجادول د طبیعي سرچینو او د وحشي ژویو او کرنیزو ځمکو پایښت لرونکې کارونې ته د پیغمبر صل الله علیه وسلم ارزښت ورکول څرګندوي.

موږ الحمدلله مسلمانان یو او اسلام هم د پاک چاپېریال په ساتلو پوره تاکید کړی دی. خو له بدمرغه زموږ زیات ځنګلونه د شخصي ګټو لپاره وهل کېږي او لرګي يې قاچاق کېږي. اوس‌مهال د کونړ، نورستان، پکتیا، پکتیکا او خوست ځنګلونو ډېرې برخې وهل شوي او دغه ځنګونه چې په بېلابېلو ونو شنه وو، اوس تشې ډبرې پاتې دي او ونې يې وهل شوي دي. د دغو ځنګلونو د ونو د پرې کېدو ګټه شخصي جېبونو ته ځي، خو زیان يې ټول ولس پرې کوي.

**د چاپېریال ساتنې ګټې**

د چاپېریال ساتنه د انسانانو او نورو ژوندیو موجوداتو د بقاء لپاره ډېرې ګټې لري. تر ټولو لومړۍ هغه يې دا ده چې د نړۍ اقلیم به عادي وساتل شي. د چاپېریال زیانمنول او د ککړتیا رامنځ ته کول د نړیوالې تودوخې سبب ګرځي. د نړیوالې تودوخې له امله د ګڼو انسانانو او څارویو ژوند له خطر سره مخ دی، چې د دې چارې مخنیوی د چاپېریال په ساتلو سره رامنځ ته کېدلی شي.

د خلکو روغتیا به ښه وساتل شي. د چاپېریال ککړتیا او ځنګلونو له منځه تلل د خلکو د روغتیا کمزورۍ کولو کې نېغه ونډه لري. د چاپېریال ساتل به له شک پرته، د خلکو د روغتیا په ښه والي کې مرسته وکړي. تر ټولو مهمه دا ده چې پاک او طبیعي چاپېریال د ډېرو ناروغیو مخنیوی کوي.

د چاپېریال ساتل د ډېرو حیواناتو د خوندیتوب لامل ګرځي. د چاپېریال ساتنې له امله به د حیواناتو ډېرې نوعې خوندي وساتل شي. ډېرې هغه نوعې چې اوس مهال په خطر کې دي، ښايي له خطره وژغورل شي او د نړۍ رنګارنګي به تر ډېره بریده خوندي شوې وي.

د ځمکې لاندې اوبو کچه به لوړه شي. د چاپېریال تخریب تر ځمکې لاندې اوبو کچه ډېره ټیټه کړې ده. نن سبا نړدې ټوله نړۍ د څښاک د پاکو اوبو له قحطۍ سره مخ ده. له همدې امله ډېر خلک ناروغه کېږي او مري. د چاپېریال ساتنه به د دې ستونزې په حلولو کې مرسته وکړي.

**پایله**

چاپېریال د الله ﷻ له خوا خپلو بنده ګانو ته ورکړل شوې قیمتي تحفه ده چې پاک او خوندي ساتل يې د بنده ګانو لپاره ډېرې دنیاوي او اخروي ګټې لري. نن سبا زموږ چاپېریال د بېلابېلو عواملو له کبله له ستر خطر سره مخ دی. د چاپېریال پاک ساتل د بشر د ژوند لپاره حیاتي چاره ده چې په ساتلو يې موږ او تاسو ټول مکلف یو. د چاپېریال ککړتیا نن سبا له سترو بشري ستونزو څخه یوه ده چې باید په اړه يې جدي ګامونه پورته کړل شي، او په دې برخه کې هر ډول خنډ او ځنډ به د ټولې بشري ټولنې په زیان وي. خو یوه خوښوونکې خبره دا ده چې د چاپېریال ساتنې په برخه کې د ټولنې هر فرد کولی شي

خپله اندازه برخه واخلي او په دې توګه خپل چاپېريال خوندي وساتي. د خوندي چاپېريال ساتنې لپاره زموږ او ستاسو ټولو همکاري اړينه ده او ان شاء الله چې زموږ او ستاسو يو کوچنی ګام به د دې ستري بشري ستونزې د هواري سبب ګرځي.

که زړونه سره يو کړو او لاسونه سره ورکړو

دا خاورې به لالونه شي، دا بوټي به لونګ شي

" درويش درانی "

اخيستنې:


١ - پښتو ويکيپيډيا

٢ - https://tkg.af/pashto/2013/04/21/%DA%81%D9%85%DA%A9%D9%87-%D8%A7%D9%88-%D8%A7%D9%82%D9%84%DB%8C%D9%85%D9%8A-%D8%A8%D8%AF%D9%84%D9%88%D9%86%D9%88%D9%86%D9%87

٣ - https://www.taand.com/%D8%AF-%D8%AC%DA%AB%DA%93%D9%88-%DA%86%D8%A7%D9%BE%DB%8C%D8%B1%DB%8C%D8%A7%D9%84%D9%8A-%D8%A7%D8%BA%DB%8C%D8%B2%DB%90

٤ - https://tatobaynews.com/archives/44091

٥ - www.bbcpashto.com

٦- https://www.ecomena.org/sustainability-islam/#:~:text=The%20Holy%20Qur'an%20and%20Environment&text=According%20to%20Islam%20each%20man,and%20care%20for%20the%20environment.